كله چې ستاسو څخه يو څوک خوراک کوي، نو په ښي لاس دې وخوري، او کله چې څښاک کوي، نو په ښي لاس دې وڅښي، ځکه چې شيطان په چپ لاس خوراک کوي او په چپ لاس څښاک کوي

له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي: «كله چې ستاسو څخه يو څوک خوراک کوي، نو په ښي لاس دې وخوري، او كله چې څښاک کوي، نو په ښي لاس دې وڅښي، ځکه چې شيطان په چپ لاس خوراک کوي او په چپ لاس څښاک کوي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم امر کوي چې مسلمان بايد په ښي لاس خوراک او څښاک وکړي او په چپ لاس له خوراک او څښاک څخه منع کوي، دا ځکه چې شيطان پرې خوراک او څښاک کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/58122

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee